دهمچنان شمارا امت وسطی ساختیم تا برمردم گواه باشید و پیامبر صلی الله علیه وسلم برشما گواه باشد

صفحه (۱)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

پاکستان دترکیي څخه امریکایي ساخته هلیکوپټرونه ترلاسه کوي

اسلام آباد دغویی ۳۱ نېټه.
پاکستان غواړي چي دترکیي څخه امریکا یي ساخته پوځي هلیکوپټر ونه په بیه واخلي.
دترکیي حکومت غواړي چي دواشنګټن څخه ددغو هلیکوپټرونو دخرڅلاو اجازه تر لاسه کړي مګر امکان لري چي په دغي معاملي کي مشکلات راپیداشي ځکه چي امریکا په پاکستان کي داتومي پروګرامونو دانکشاف له امله په هغه هیوادباندي دځینو نظامي وسایلو خرڅلاوبند کړي دي.
دترکیي ددفاعي صنایعو یو مامور وایي چي پاکستان بلك هاګ دوله هلیکوپټرونو دخریداري غوښتنه کړیده چي دغه سیستم هلیکوپټرونه په دترکیي اوامریکا د صنعتي موسسي له خوا په ګډه جوړیږي.
دترکیي نوموړي ماموروایي چي دغه موسسه کوشش کوي چي دامریکایي مقاماتو نه ددغو هلیکوپټرونو دخرڅلاو اجازه ترلاسه کړي.
دترکیي حکومت ددغي مؤسسي سره سږ کال یوه موافقه لاسلیك کړي وه چي انقره ته نیږدي په یوه فابریکه کي به په ځلورو کلونو کي دغه دول پنځوس هلیکوپټرونه جوړوي.

ماموران سازمان ملل،مهاجرین تاجکي درشمال افغانستان را بوطن شان بازمیگردانند.

۳۱ ثور.
ماموران سازمان ملل متحد میگویند : درنظر دارند که فردا بیرون بردن بیش ازسیصدپناهندهٔ تبعهٔ تاجکستان را از شمال افغانستان آغازکنند. پناهندگان مقیم مزارشریف اولین کساني خواهندبودکه تحت حفاظت ماموران سازمان ملل متحد به کشور شان عودت خواهندکرد.
بیش از سي هزارپناهندهٔ اهل تاجکستان دردنبال جنگهاي شدید آنکشور به افغانستان پناهنده شده اند. بسیاري ازآنان میگویند : هنوز ازان بیم ناك اندکه به تاجکستان بازگردند. ماموران سازمان ملل متحد میگویند: که دولت عثمان از مخالفان دولت تاجکستان از اردوگاه مهاجرین دیدارنموده واز آنها خواسته است تا در همین جابمانند.

شمارهٔ مسلسل (۶۳۹) سال شانزدهم شمارهٔ (۲۷) یکشنبه (۲) جوزا ۱۳۷۲ هه ، ش ۲ ذالحجه ۱۴۱۳ هـ ، ق (۲۳) مي ۱۹۹۳ م

بیه: یوه روپي یا ۵۰ افغاني

دحزب اسلامي مجاهد امیر اودافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورورحکمتیار دجلال آبادتاریخي غونډي پاي ته رسیدلو وروسته په ویناکي :

تردي وروسته په ټول افغانستان کي دمجاهدینو ترمنځ هردول برخورد دونه ناروااو ناجایزدي

ټول مجاهدین مکلف دي چي دلارو امنیت به ساتي

دننګرهاردمجاهدینوترمنځ یووالي دټولو مجاهدینو دوحدت یوه بیلګه ده

۳ مخ

موږتعهد کړي چي تردي وروسته به څوك دتوب ، اوټانګ په ذریعه پرافغانانو حکومت ونشي کولای

دکابیني په اړوند نوردجهادي تنظیمونو ترمنځ اختلاف ختم شوي

موږپدي خبره توافق کړي چي ترمیزانه پوري به دیوه مستقل اوباصلاحیته کمیسیون له لاري دملت رایوته رجوع کیږي

امیدوارم که فیصله های جلال اباد بعنوان ندای ضمیرملت درمشی عملی فردفرد برادران پیاده شود

ص (۲)

امیدوارم که منبعد تراژیدي دردناك وخونین جنگ درکشورماتکرارنشود

بعدازین نباید داستان بیهودهٔ کشمکش میان احزاب دوباره تکرار گردد

استاد رباني

دجلال آباد په ښار کي دجهادي مشرانو دغونډو دیریکرو نتایج اعلان شول

۳ مخ

دمخابراتو وزیر قاضي محمدامین "وقاد"

دعدلیي وزیر جلال الدین "حقاني"

دساختماني امورووزیر انجنیر فیض محمد

دمالیي وزیر عبدالکریم "خلیلي"

دزراعت وزیر سیدنورالله "عماد"

په جلال اباد کي دمعظمو جهادي رهبرانو ددریو اوونیو پرله پسي غونډو نتیجي دګڼ شمیر هیوادوالو په وړاندي اعلان شوي

جلال آباد :
دغویي ۳۰ مه

په داسي حال کي چي دافغانستان داسلامي تنظیمونو دجهادي مشرانو ترمنځ ۲۰ ورځني پرله پسي غونډي دیوي نوي کابینې په جوړولو ، دوزیرانو په ټاکلو ، دلارو په خلاصولو اودیوه دایمي اوربند په اعلانولو دغویي دمیاشتي په ۳۰ مه نیټه پاي ته ورسیدي .
دپنجشنبي په ورځ د سهار په ۹ بجو او (۳۰)دقیقوټول جهادي مشران په داسي حال کي چي یو دبل ترڅنګ روان وو دجلال آباد دجمهوري قصرمخي ته راووتل پدي وخت کي په زرګونوخلك علما، قوماندانان ،دننګرهارسپین ږیري ،مجاهدین ،معیوبین اوداسلامي انقلاب دشهید انو وارثان دغونډي په ځاي کي راټول شوي وو دجهادي مشرانو راتګ یي دغونډي ځاي ته دتکبیر په نارو اوانقلابي شعارونو بدرګه کړ اودوي ته یي دیوه سوچه اسلامي حکومت په جوړولوکي له لوي خداي (ج) څخه مرسته وغوښته .
غونډه دسهار په (۹) بجو او ۳۰

۳مخ

دجلال آباد تاریخي معاهده دمجاهدو قوماندانانو هراړخیزملاتړته اړتیالري.

څلورورځي دمخه په جلال اباد کښي دجهادي مشرانو ترمنځ له شل ورځي خبرواترو وروسته دافغانستان درواني ستونزي په باب یوه هراړخیزه معاهده لاسلیك شوه ، ددغي معاهدي امتیاز اوخصوصیت دنوروموعاهدو په پرتله دادي چي دغه معاهده دپښتانو هغو په خیر له هیواد نه بهر اوددبهرنیو په منځګړتوب اویاسیاسي فشارونو اوچلوټو پرته دهیوادپه دننه دننګرهار دتاریخي ښار جلال آباد په ماڼي کښي دافغاني منځګړیو اوافغاني کوربنو د منځګړتوب اومیلمه پالني په نتیجه کښي منځته راغله.
اوس نوهیڅوك دي ته ګوته نه شي نیولاي چي کوم بهرني فشار و اویادبهرنیو نغوته وه ، چي ترون لاسلیك شو او یاپکي له چټکتیا اوعجلي نه کاراخیستل شو او دااوهغه نیمګړتیاوي لري اویاپکي دچاحق تلف شوي اوچاته زیاته برخه ورکړل شوي ده ، دجلال آباد دتاریخي معاهدي ددغه خصوصیت په لرلو سره چي له یوي خواټولو جهادي مشرانو اویادهغوي باالختیاره نمائندګانو پکښي ګډون لاره اوله بلي خوا دپوره وخت په لرلو سره په دي باب مکملي مشوري هم شوي دي اوله پوره غوراودقت وروسته دغه معاهده مینځته راغلي ده که څه هم زمونږ دجهاد تاریخ ددي خبري شاهدي ورکوي چي د مقدس جهاد په دوران کښي دیوه واحد سیاسي قیادت اوواحد سیاسي دریځ دلرلو په خاطر بیلابیل اتحادونه مینځته راغلل اوپه هماغو وختونوکښي دخپلسریو اوبي ځایه لاسوهني له امله له منځه ولاړل. چا د اتحا دونو په رامنځته کیدو کښي ځانته تنظیمونه جوړکړل ، چایي پرامکاناتو خیټه واچوله ،ځیني نورو دتنظیمونو غړ ي له ځان سره ملګري کړل اودهمدغو ګډوډیو اوخپلسریو په نتیجه کښي هغوټیرو اتحادونو دوام ونه کړ.
همدادول کله چي په ۱۳۶۷ هـ ، ش کال دسلواغي دمیاشتي په شپږویشتمه روسي پوځونه زموږدمومن ملت دیونیم ملیون شاه زلمیو مجاهدینو دقربانیو په نتیجه کښي له ګران هیوادافغانستان ته تیښتي ته اړشول. له هماغه ورځي یوځل بیا دجهادي قوتونو ترمنځ دیوه مشترك جهادي حکومت دجوړیدلو اړتیا ولیدل شوه چي دروسانو دلاس کښېنولي رژیم دنسکوریدو په صورت کښي بي ځاي ونیو لاي شي.
له دي امله ترڼه پوري دراولپنډي ، پیښور اواسلام آباد معاهدي مینځته راغلي ، هرځلي سوګند ونه وخوړل شول یي دریغه مصارف وشول ، دهیواد ځپلیو خلکو په کلونو کلونو پالل شویو هیلو غږوني وکړي ، خو هغه دي زموږ مومنوهیواد والو ولیدل چي دغه تړونونه څنګه په یوه اوبل ډول نوموړو ونومول شول ، تر کومي اندازې تري دپردیو دلاس غزونو اټکلونه وکړاي شول، څومره دملت په ګټه وي اوڅومره دپردیو (خبرداپویبل بحث دي چي دامهال یي دلیکلو نیت نه لرو) په هرترتیب دجلال آباد تړون روسي سرهځورو پوځونو له وتلو وروسته څلورم اودکمونیستي رژیم له

۳مخ

وزیرخارجهٔ شوروي ازنزدیکي نظرات امریکا وروسیه روي ختم جنگ دربوسنیا اطمینان داد

واشنگتن ۳۱ ثور.
اندري کوزیروف وزیر خارجهٔ روسیه میگوید به نظروي جامعه بین المللي به اتخاذ یك موقف مشترك بخاطر ختم جنگ دربوسنیا هرزه گوونیا بسیار نزدیك است.
کوزیروف به خبرنگاران در قصر سفید اظهار داشت: به اعتقاد وي رئیس جمهور کلنتن با این مساعي همگردي دارد اما وي تفصیل بیشتري نداده وتاکید ورزید که به اساس یك موافقتنامه از تبصره تازماني خو دداري میکند که باوزراي خارجه برتانیه وفرانسه دیدارکند.
وزیر خارجهٔ روس یك گزارش روزنامه نیویارك تایمز را کم اهمیت جلوه داد که طرح بوسنیا هرزه گوونیا براي فعلاً دست آوردهاي ارضي صربهارا قبول میکند .
روزنامه نیویارك تایمز ازقول یك مامور بلند پایه حکومت امریکا میگوید: .هدف استراتیژي مشترك امریکا وروسیه آن خواهد بودتاوضع راباثبات ساخته وکشتار را متوقف سازد. درعین حال ازجنگ شدید دراطراف شهرکهاي پرچکو وکمکلاي درشمال سرابیو گزارش داده شده

ص ۳

پاکستان خبرخریداري موشکهاي زمین به زمین ازچین راردنمود

پیکنگ ۳۱ ثور.
یکي از مقامات پاکستان این خبررا که آن دولت ازچین موشکهاي زمین به زمین خریداري کرده است تکذیب کرده است.
اکرم ذکي دبیرکل وزارت خارجه پاکستان دیروز درپیکنگ به خبرنگاران گفت ؛ باآنکه روابط چین وپاکستان به امور دفاعي هم مربوط میشود،دولت چین به یك پیمان بین المللي که فروش اسلحه را محدود مي سازد کاملاً وفادار مانده است. درماه دسامبر گذشته ماموران اطلاعاتي امریکا گزارش دادند که چندین موشك M11 ساخت چین به پاکستان رسیده است

سخن روز

نقش تخريبي دايه هاي مهربانترازمادر

تضعيف

رهبران جهادي يك حركت شيطاني واستكباري است.

فعاليتهاي كه استكباربراي خدشه دارساختن حيثيت وصلاحيت مجاهدين وقيادتهاي آنها انجام ميدهد ،يكعده چهره هاي بظاهر جهادي كه ازلحاظ موضعگيري هميشه درجهت نيل به اهداف ومقاصد استكباركاركرده اند، ماموريت خبيثانه ودرعين حال تاسف باري دارند ،ضرورت چنداني بمعرفي اين عناصر ديده نميشود ،زيرا معرفي شان جز اينكه موقعيت آنها را درنزد محافل استكباري بالاببرد و حقوق وامتيازات مقرره' شانرا زياد كنند .فايده' ديگر ندارد اما افشاي اين جريان درفرصتهاي لازم جز وظايف ارباب فكر وقلم است ،تامردم را ازحركت مرموزومخربانه' آنها آگاه نمائيد وبخشي ازتوطيه هاي استكباري رادربرابرجهاد خنثي نمايند.

درين راستا دستگاه هاي خبري استكبار از جمله' راديوهاي بي بي سي وصداي امريكا بخاطر تضعيف وبي اعتبار سازي رهبران جهادي تمام توجه خود رابطرف جلال آباد مبذول ميساختند . درتعقيب همين مرام عناصر يكه درگيرو دار جهاد اصالت شانرا ازدست داده وشكار بندهاي استكباري شده اند ، نيز همين پروگرام رامدنظر دارند. وبه تعبير ي ماموريت گرفته اندكه ازجريانات جلال آباد به نفع شان بهره برداري نموده ودرقيافه عشق وعلاقمندي به آرمانهاي جهادي ،به ريشه هاي اصلي جهاد ونهضت صدمه وارد نمايند.

اين عناصر كه عمرشانرا درتلاش براي كسب شهرت وموقعيت سپري كرده ودرتنظيم سازي وفرصت طلبي ازهيچنوع اقدامي روگردان نبوده ودوسيه نفاق وتفرق جويي آنها ازهمه سنگينتروضخيمتر ميباشد، خودشانرا ميخواهند با زرنگي خاصي همنوا وهمگام باصداهايي بسازند كه ازقلب ملت ومردم براي آمدن اتحاد وبراي حصول توافق ميان رهبران جهادي شنيده ميشود. اين دايه هاي مهربانتراز مادر بجاي اينكه درخلال قضايا موضع صريح وشرافتمند انه داشته باشند وطبق فرموده' قرآن مجيد ازدوجريان ،يك جريان تعدي كننده رابراي مردم معرفي نموده و طرفي راكه طورنسبي برتروبرحق است موردپشتيباني قرار بدهد، درهاله يي ازابهام بسربرده وبه تعبير عوام تروخشك رايكجا نموده درمجموع تمام رهبران جهادي را زيرملامتي وسرزنش ميگيرند.

واضح است ،اگر بخواهيم درافغانستان يك حكومت اسلامي وجهادي داشته باشيم بايد كادررهبري آن دردست زعماي مجاهد ومسلمان باشد. ولي استكبارميخواهد بانفي رهبران جهادي وتضعيف آنها درواقع صلاحيت ولياقت تمام افراد مادون آنها رانفي كند وحكومت اسلامي رايك آرمان ناقابل وغير ممكن جلوه دهد. بااينحال ، تبليغات ضدرهبران راداغ ميكنند تاازيكطرف درمراكز سازماندهي وتجمع مجاهدين پراگندگي وبي اعتمادي بيايد وهم ازجانبي لياقت واستعداد كل مجاهدين درمجموع ،زيرسوال برود.

به اين حساب تبليغات ضدقيادتهاي جهادي دايه هاي مهربانترازمادرحكم يك حركت انتحاري وسراسرضدجهادي رادارد .زيرا اگرقيادتهاي جهادي افغانستان به آوردن اتحاد قادرنبوده وصلاحيت حكومت راانداشته باشند ،افراد پائينترازآنها كه خوددايه هاي مهربانتر از مادر و جز آنها قرار ميگيرند نيز قطعاً درساختن حكومت اسلامي و آوردن اتحادوهماهنگي كاري راازپيش نخواهند برد.

بدون ترديد ، امروز همه قبول كرده اندكه تضعيف وتحقيررهبران جهادي ازهرجانبي كه صورت بگيرد وزير هرشعار وصداي كه پنهان باشد ، يك حركت شيطاني ونابخردانه است،يك دسيسه يي است كه عنان هدايت آن دردست استكبار جهاني مي باشد.

مجاهدين درعين حالي كه به احتساب درعملكرد رهبران جهادي مثل ساير عناصر واعضاي جهادي تاكيد ميورزند و معتقدند كه بايد حسب درجات واستعداد ، رهبران جهادي دراداره' كشور سهيم باشند،

قيادتهاي جهادي خودرا ازصميم قلب دوست ميدارند وبه آنها احترام ميگذارند. مجاهدين ان شاءالله هوشيار ومترصد جريانات هستند ، هرگونه توطئه ودسيسه رابراي تضعيف وپراگنده ساختن هسته هاي جهادي درك نموده وتبليغات ضدقيادتهاي جهادي را خنثي ميسازند.

افغان ربړه اوبهرني لاسوهني

فدامحمدفايض

هيڅا هم داباورنشو كولاي دافغان مظلوم اوتش لاسي ملت په څير بوولس دي دسره پوځ غونډي مهيب پوځ سره مقابله وكړاي شي . خوداجنگ لكه چې تړي شاهده وه دوسلي جنگ نه بلكه له كفو سره دايمان جنگ و اوبالاخره ديوه مسلمان عالم داپيشگويي چې په افغانستان كي ددوايډيالوژيو جگړه دي اوپه پاي كي به بري دهغي ايډلوژي په برخه وي چې حقه وي .

ومولیدل چې دكمونيزم ايډيالوژي اسلام ته دتسليم لاوڅواوچت كړل خوخبره يوازي په همدي ځاي تمامه نشوه چې كمونيزم دي اسلام ته سلامي شي .

بلكي ورسره جوخت هغه امپراتوري هم دړي وړي شوه چې كمونيزم پكي زيږيدلي اولوي شوي و . نن دنړي په سياسي تخچه كي دشوروي سوسياليستي اتحاد نوم نښته اوكه څوك دمركزي آسيا دجمهوريتونو په باب څه وايي يااليكي نو دپخواني شوروي اتحادنوم اخلي . داوړه خبره نه ده بلكي دنړي دتاريخ په پيښوكي يوه ستره پيښه ده اومتاسفانه كه دننني ډګلاس اوپيښي پيښي مسلمان امت پځاي دنړي په كوم بل ژوند ي قام كي داسي پيښه شوي واي بيله شكه به يي دادعوه كړي وي ، چې داپيښه دي ديوي تاريخي دوري دپاي اودبلې تاريخي دوري دپيل نقطه وګڼل شي.

په هرحال سره امپراتوري دړي وړي شوه اوكمونيزم ديوه اجتماعي نظام په حيث ناكام اوپه دوسته نړي كي وشرميد . دسري امپراتوري دختميدو سره دنجيب دناكام حكومت ختميدل هم حتمي خبره وه اودختميدو عوامل يي هم څرګندو●خوكوم تكي چې صهيونيزم اودكليسا مشراتو ترينه

تراخوړله هغه په افغانستان كي داسلامي حكومت دتشكيل خبره وه نوځكه خويي داسلامي حكومت ترتشكيل دمخه دمجاهدينو ترمنځ دنفاق داسي تخم شيندلي دچې په يوه دسترخوان راټوليدل يي گران كارو.

له تاريخ نه ثابته ده چې يهود اوعيسويان دمسلمانانو ازلي دښمنان دي داسلام له صدرنه راواخله تر داتن پوري يهودونصاراو دمسلمانانو سره دښمني خپله فريضه گڼلي اوپي له شكه چې دمسلمان پرضد كومه توطيه اودسيسه جوړه شوي په ښكاره ياپټه به خامخا ديهودولاس پكي شامل وي نوځكه خو دافغانستان په دااوسني بحران كي ديهودو اونصاراو شيطنت له پامه نشوغورځولاي.

دي شيطاني شبكو دافغانستان سياسي وضعه داسي عياره كړه چې هغه مسلمانان چې پرون يوتربله وروڼه اوهمكاران ګڼل كيدل اوله يوه ګريوانه يي سراېست نن په طبيعي توگه يو تربله ځان دښمن گڼي او يوله بل نه ځان ساتي دنجيب د حكومت له سقوط نه تردااننه پوري چې دجهادي قوتونو ترمنځ جنگ جنگري شوي دايوازي اويوازي ددي قوتونو دكمزوري كولو اويوپر بل داعتماد دفضا دختمولو يوه شيطاني دسيسه ده .

داوړه دخواشني ورده چې نن ديو مسلمان دټويك شپيلي دبل مسلمان سيني ته نيول كيږي .كه زموږ جهادي قوتونه دابهرني لاسونه غوځ اولند نكړي په افغانستان كي به داموجوده بدبختي رواني وي . دانن چې په افغانستان كي بي امنيتي ، غلا ، دلاروشوكول . اختلاس اوپه لسگونو نورجنايات ښه په وضاحت سره ليدل كيږي دايونه پټيدونكي واقعيت دي اوددي دليل هم دانه دي چې افغان قام يو وحشي قام دي اوپه عصر كي يي هم حكومت امنيت اوتمدن په سترګو نه دي ليدلي اودخپل وحشت په بناداسي كوي بلكي نړيوال كفر ورته داسي لاري برابري كړي چې پخپله په همغو لارو روان دي.

ايا دابه زموږداسلامي اوملي غرور دشملي دراكوزولو يوكوښښ نه وي، په داسي حال كي چې روسان مو مات كړي ، دكابل گوداگي كمونستي حكومت موړانسكور كړي زموږمشران په پردي ملك كي كښيني اودخپل ملك سرنوشت ټاكي اوهمداعلت وچې دغسي پلاټونو دروغو جوړو چندان ښې نتيجي ونه لرلي . دخوښي ځاي دي چې زموږمجاهدمشران په داسي حال كي دافغان كشالي دجوړجاړي په اړه يوي نتيجي ته سره ورسيدل چې دخپلو مجاهدو قومانداناتو اوخپل مجاهد ولس ميلمانه اوداغيارو له مداخلي اوحضورنه پرته ديوه بين الافغاني ديالوگ په نتيجه كي بي خپلي منازعي حل وفصل كړي. دجلال آباد غونډه كه څه هم چې نتايج يي لانه دي معلوم خو اميدواري ورته ځكه په كارده . چې افغانانو خپله ستونزه دپرديو له حضور پرته پخپل ملك كي حل كړه اوداهغه غوښتنه وه چې دهر افغان په زړه كي گرځيده .

اوس اصل خبره داده چې زموږپه مخ كي يو اوږدمنزل دي او دا اوږده لاره به يوځاي اوداعتماد په فضاكي سره وهو نو ددي لپاره چې خداي مكړه دلاري په اوږدو كي مونږ يو پربل بد گوماني نه وي راغلي پكارده چې سرله اوسه دبدگوماني عوامل ختم كرو.

زماپه نظر خو دبدگوماني ستر عامل لكه چې وروميي مووړته اشاره وكړه همدغه بهرني لاسوهني دي . څوك دگاونډيو او د افغاني مهاجرينو دكوربه هيوادونو په نامه زموږ په مساله كي لاسوهنه كوي څوك دجهاد دمرستيال اوڅوك دي څه اوڅوك دڅه په نامه . حقيقت داد ي چې ښايي نن په گرده نړي كي داسي حكومت نه وي چې داسلامي اصولو له مخي له موږ سره دوستي اومعامله وكړي. بلكي :

هر سړي ترخپل مطلبه پوري ياردي مادخداي لپاره يارليدلي نه دي.

پاكستان، ايران ،سعودي يا نوراسلامي ملكونه يوهم دالهي اصولو په رڼاكي له موږسره قدم نه اخلي زما داپوخ يقين دي كه چيري دي ملكونو غوښتلاي چې افغان ربړه داسلامي اصولو په رڼاكي حل كړي اوخپل او په پاي كي بي داامريكا ګټي په پام كي نه نويلاي اوس به په گرد افغانستان كي يوه ځواكمن مركزي حكومت ، حكومت كاوه ، امنيت به و اودا روانه گډوډي به نواي اوس سړي پوهيږي چې دعلامه اقبال تيز بينو اوعقابي سترګو څه ډول دافغانستان داهميت پيشبيني كړي و ، چې افغانستان ته يي دآسيا زړه اودهغه په خپله اصطلاح دآسيا " فساد " او «گشاد" يي له همد بڅايه ګڼلي و.

اوس دنړيوال استكبار په وړاندي افغانستان دوه ستري گناه وي لري.

لومړي داچي يواسلامي ملك دي ، دنړي يوستر مادي ځواك ته يي دخپل ايمان په قوت ماتي وركړي اويو اسلامي انقلاب پكي بريالي شوي.

دوهم داچي دنړي په داسي نقطه كي پروت دي چې داسيا دلوي براعظم ،فساد" اوګشاد " په ده پوري تړلي دي.

نن امريكا اودهغه لاسپوڅي هيوادونه ټول كوشش كوي چې په افغانستان كي يوځواكمن مركزي حكومت جوړنشي اوسوله اوامنيت پكي رانشي تاسي وګوري ددي سره جوخت چې جهادي مشران په جلال اباد كي موافقي ته رسيږي اودهيواد دجمهوررئيس ، صدراعظم اونورو جهادي مشرانو په حضوركي كابينه اعلانيږي ، ددفاع وزارت هم خپل ملاتړ تري اعلانوي.

امريكا يي شيطانان په تاشكند كي دشمال جنبش له مشر سره پټ ليده كاته كوي دايي له شكه دسولي داوسني پروسي جريان ته د څه خنډونو دپيداكولو لپاره شيطاني هلي ځلي دي.

څو ورځي دمخه يوه دوست ديوه مجاهد شخصيت له خولي نكل كاوه چې څو ورځي دمخه مي په اسلام اباد كي دسعودي سفارت ته دعمري دويزي داخستلو په منظور مراجعه وكړه څو سفير په ډاګه راته وويل چې ځان مه په تكليفوه مزارته ولاړشه اوله هغي لاري عمري ته ولاړشه . په داسي حال كي چې مركزي حكومت هم شته اودسعودي حكومت په رسميت هم پيژندلي خو بيا هم دويزي لپاره خلك مزارته ليږي.

امريكا له دينه سخته ويره لري چې كه په افغانستان كي اسلامي حكومت جوړيږي دمركزي اسيا اسلامي غورځنګونه پياوړي كيږي .په مركزي اسيا باندي څه له پاسه اويا كاله دكمونيزم ظالم اوطاغوتي نظام حكومت كړي . دهغه ځاي ولسونه چې زړينه اسلامي ماضي لري ، له اسلام سره مينه لري اوداسلامي نظام راتگ ته سترګي په لاردي نوځكه خواوس هم امريكا يان اوهم روسان په افغانستان كي دكړكيچ دلازياتولو كوشونه كوي . نن كه له امريكا پرته دسيمي نورهيوادونه هم په افغانستان كي لاسوهنه كو ي داپه حقيقت كي دهغو په لستونو كي دامريكا لاسونه دي كه څه هم چې هغوي خپلي ګټي هم په پام كي نيسي خو دامريكا ګټي ورته په هرحال مقدمي دي.

نوكه چيرته زموږ جهادي مشران غواړي چې ددوي اوزموږدملك جهادي حيثيت اوتشخص زيانمن نشي او په هيوادكي امنيت اوسوله راشي نو په ګډه دي دبهرنيو لاسوهنو مخنيوي وكړي.

اميدوارم كه فيصله هاي جلال آباد بعنوان نداي ضميرملت ...

من وساير رهبران حاضر درين جلسه ازتلاش ومهمان نوازي شوراي جهادي ومردم شريف ننگرهار كه زمينه' صحبت وتفاهم رادرين شهر تاريخي مساعد كردند ، از صميم قلب ممنون هستيم ومتيقين هستم كه اين گردهمايي درصفحات زرين تاريخ كشورما بحيث يك كارنامه تاريخي براي هميش زنده خواهد بود.

اميدوارم خداوند (ج) دربدل اين كار بزرگ براي شوراي جهادي ننگرهار ، علماومعلولين آن توفيق مزيدنصيب نمايد.

برادران عزيز طي جلسات چند روزي كه رهبران محترم جهادي داشتند درفضاي اخوت وصميميت پيچيده ترين قضايايي راكه ماوشمانظر به تبصره هاي راديويي و حرف هاييكه ازدوروونزديك شنيده مي شد، بعضي ها به غلط تصورميكردندكه اشتراك كنندگان جلسه تاريخي جلال آباد بدون نتيجه پراگنده خواهند شد، اما بلطف پروردگار وبه اساس اخلاص ودلسوزي رهبران جهادي وهمكاري صادقانه ودلسوزانه شوراي جهادي ننگرهار، علماي محترم ومردم ديندار ومجاهد ننگرهار ماامروز به نتايج خلاف انتظاري كه بسياري ها تصورنداشتند رسيديم ونتايج بسيار مثبتي بعدازجلسات تاريخي مان درننگرهار بدست آمد. البته تراژيدي هاي دردناك ومشكلات بسيار سختي كه طي چند ماه اخير درائر كشمكش هاي خونين دربرخي نقاط كشورعزيز مان مخصوصاً .

حوادث خونين شهركابل ايام تراژيدي والم انگيزي بودكه قلب هرمسلمان را نه تنها دركشور عزيز مان افغانستان بلكه درسراسر جهان خونين ومتالم ساخته بود. اميدواريم كه بعد ازاين ديگر آن تراژيدي هاي دردناك وخونين درهيچ نقطه اي ازكشور مان تكرار نشود ، اميدواريم بعداز اين امنيت درهمه اطراف واكناف كشورمان حاكم گردد . دولت اسلامي كه محصول خونبهاي شهداي عزيزمان بيش ازيكنيم مليون شهيد گلگون قباي كشور عزيز مان است بايد استحكام بيشتر بيابد. بعدازاين نبايد اجازه بدهيم كه درائر كشمكش هاي بيهوده وناروا و درائر برتاب راكت ها وكشمكش هاي خونين لكه هاي ننگي برپيشاني

> **اميدوارم كه انجنير صاحب حكمتيار صدراعظم كشورمان بتواند با انرژي و احساسات درجهت تامين امنيت وخدمت به مردم گامهاي مثبتي بردارد**

تاريخ باصفاي جهاد ي ما بپيوندد.مااميدوار يم بعد ازاين حكومت اسلامي به فعاليت هاي جدي خود درهمه ابعاد آغازنمايد، امنيت دركشور بصورت كامل مستقر گردد آواره ها ومهاجرين عزيزمان به خانه وميهن شان برگردند .اختلافات ذات البني ازبين برود بعداز اين نبايد داستان كشمكش هاي بيهوده اي ميان احزاب دوباره تكرار شود.

به عنوان يك ملت مسلمان ، يك ملت مجاهد يك ملت واحد همه دربازسازي كشورعزيزمان سهم بگيريم اجازه ندهيم بنام زبان ، نژاد ،قوم ومنطقه درميان ملت مسلمان ما اختلاف وكشمكش بميان آيد

مابقين داريم هيچ افغان مسلماني وهيچ مجاهدي درهيچ نقطه اي ازكشور مان اجازه نميدهند. وحدت ملي ماازبين برود. هردست ناپاكي كه بخواهد افغانستان واحد را تجزيه ومتلاشي سازد بايد باقوت هرچه تمام تر چنين دستها راقطع كر دوبه

> **دست هاي ناپاكي كه قصد تجزيه افغانستان راداشته باشند بايد باقوت هرچه تما متر چنين دست ها راقطع كنيم**

هيچكس اجازه ندهيم كه نعره هاي تجزيه خواهي را درهيچ جايي بلند كند. مابقين داريم كه ملت مسلمان ومجاهد ما به هيچ كس اجازه نميدهد.جز حكومت اسلامي حكومت ديگري تحت هيچ نام وعنواني درافغانستان پياده گردد . حكومت اسلامي كه مولود جهاد خونين ملت ماوقرباني هاي بيدريغ ملت عزيزماست هرگز ضايع شدني نيست.

مابقين داريم شوراي جهادي ننگرهار ازجلسه رهبران جز وحدت واتحاد درميان رهبران جهادي هيچ هدفي ديگري نداشته وندارند اينكه راديو هاي جهان چرا هرزه سرايي ها ميكنند اين حرفهاي دروغ وهرزه سرايي ها را زياد شنيديم وهرگز باورنميكنيم من اميدوارم كه برادر انجنير حكمتيار صدراعظم كشورمان بتواند باانرژي واحساسات پاكي درجهت تامين امنيت ، درجهت خدمت به كشور عزيزمان گامهاي موثرومثبتي بردارد وهم چنان وزراي محترمي كه تعدادي ازآنها تعيين شدندوتعدادي هم ان شاءالله درفرصت هاي نزديكي تعيين مي شوند برادران محترم وزراي مان هم بتراننددرخدمت كشورعزيزشان درخدمت ارمان ملت مسلمان شان گام هاي سازنده وموثري بردارند. ما اميدوارهستيم كه فيصله ما درجلال آباد به عنوان آوازضميرملت مسلمان مان در مشي عملي فرد فرد برادران ما پياده شود وديگر به هيچ اختلافي درهيچ بعدي اجازه ندهيم . براي اينكه بيشتر وقت شمارانگرفته باشم وقرار هم بودكه ماتنها يك دو حرف مختصر بگوييم زياد طولاني صحبت نميكنم يكبار ديگر ازشوراي جهادي ننگرهار درراس شان برادر بسيارعزيز ودلسوز حاجي صاحب عبدالقديروازمردم ديندار ومتدين ومجاهد ننگرهار وازبرادران عزيز معلولين بسيار ارجمند مان وازعلماي بزرگ ومحترم مان وازهمه برادران مصلح وبرادران عزيزي كه درجهت كاميابي اين اجتماع تاريخي خدمات ارزنده اي انجام دادند صميمانه اظهار قدرداني وشكران ميكنم .

#####

وزيرخارجه' شوروي ازنزديكي ...

واما ساير مناطق بوسنيا هرزه گوونيا آرام بوده است.

تحليل گران سياسي را عقيده برآن است كه روسيه وامريكا ميخواهند طرح جديدي راكه درائر آن قدرت وحاكميت مسلمانان نسبت به صربهاكم باشد عملي سازند درغير آن آنها مخالف تشكيل هرنوع حكومت مستقل اسلامي درقلب اروپا ميباشند وآنرا خطر جدي براي منافع درازمدت استعماري خو دتلقي مينمايند. ازهمين سبب است كه در طول جنگهاي گذشته كه خاك بوسنيا مورد تهاجم وحشيانه سربها قرار گرفت وجنايات بيش ازحد اعمال شد اين دوكشور استعماري ازآن چشم پوشي كرده وهميشه كوشيدند تاصربها در اين جنگها دست بالاداشته باشند. باوجود اينكه مسلمانان بوسنيا هرزه گوونيا درمحاصره شديد تسليحاتي و مواد خوراكي قرار دارند اما درمقابل راه هاي امكاناتي وتجارتي صربها بازبوده وكشورهاي استعماري درخفا به آنها كمك تسليحاتي واقتصادي مينمايند. درگذشته وحال روسيه با اعمال فشاراقتصادي مجامع بين المللي برصربها مخالف بوده وامريكا نيز دراين زمينه چندان علاقه اي نشان نداده است.

په اسرائيلوكي ټول مسلمان

• زندانيان كړول كيږي

دغوبي ۳۱ نيته .

تل ابيب .

داسرائيلو تراشغال لاندي دغزي په تړانگه كي اكثر هغه فلسطينيان چې داسرائيلوپه زندانونوكي بي رحت تيركړي وايي چې دوي دبندي توب په وخت كي كړول كيږي.

داسرائيلو په زندانونوكي دپخواني فلسطيني بنديانو ۹۰ په سلوكي

۳مخ

تردي وروسته په ټول افغانستان کي دمجاهدينو ترمنځ ...

اسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته وبعد.
الحمدلله وکفي وسلام علي عباده الذين اصطفي وبعد.
فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم .بسم الله الرحمن الرحيم.
ان تنصرو ا الله ينصرکم ويثبت اقدامکم . ان ينصرکم الله فلاغالب لکم وان يخذلکم فمن ذالذي ينصرکم من بعده وعلي الله فيتوکل المؤمنون . صدق الله العظيم.
جلال آباد دغويي ۳۰ مه.
دافغانستان داسلامي دولت محترم رئيس صاحب! داسلامي جهادي تنظيمونو محترمو مشرانو دننګرهار دولايت محترم والي اودننګرهار

دکابينې په اروند نوردجهادي تنظيمونو ترمنځ اختلافات ختم شوي مونږ پدي خبر ، توافق کړي چي ترميزانه پوري به ديوه مستقل اوباصلاحيته کميسيون له لاري دملت رايو ته رجوع کيږي ، انتخابات به ترسره کيږي اودمکي مکرمي ميثاق سره سم به يوه منتخبه شورا چي دټول ملت ،دټولو اقشارو واقعي نمايندګان وکولاي شي جوړيږي.
مونږ په دايي اوريند په خپلو منځونوکي توافق کړي په ټول افغانستان کي له دي نه پس دمجاهدينو ترمنځ هرډول هرراز برخوردونه ناروااوناجائزګڼل شوي .

زه دنوروورهبرانو له ناحيي نه مطمين يم چي هغوي غواړي ددغي معاهدي دتنفيذله لاري دافغانستان کشاله دتل لپاره حل شي.

دجهادي شورا محترم رئيس اوغړوزما دايمان اوعقيدي ورونو الحمدلله مونږ په جلال آبادکي پس له تفصيلي غونډو اوتفاهوماتو، د افغانستان دمسئلي - دحل ، په افغانستان کي دجګړي ددايمي خاتمي اوديوي پايداري سولي دتامين اوديوه واقعي اسلامي حکومت دجوړولو په لارکي تاريخي توافقاتو ته ورسيدو.
ورونو ! مونږ په ځومهمو خبروپه خپلو منځونوکي توافق کړي چي تاسو به پدي توافقاتو،ژمنو شاهداوګواه اوسي.
مونږ دافغانستان داسلامي دولت په کابينې ، دکابينې په غړو دوزارتونو توزيع دهروزارت لپاره ديوه وزير په ټاکلوپه خپلو منځونوکي توافق وکر اودغه کشاله نورحل شوي.

باصلاحيته هئيت تاکل شوي ترڅولارشي اوريند تنفيذ کړي اوداوريند په کار عملاً نظارت وکړي.
مونږ توافق کړي چي لدي نه بعد به دتلو راتلو اوداکمالاتو تولي لاري خلاصي وي هيڅوک حق نلري په لاروکي پاتکونه واچوي مزاحمتونه ايجادکړي له خلکو نه حق العبورواخلي.
ټول مجاهدين مکلف دي چي دلارو امنيت به ساتي هيچا ته به ددي موقع نه ورکوي چي په لاره کي خلکو ته مزاحمتونه ايجادکړي.
مونږ تعهدکړي چي دمکي مکرمي دتاريخي ميثاق به هغه معاهده چي په حرم کي ورباندي امضا شوي په اسلام آباد کي ورباندي امضا شوي دهغي بند بند به په اخلاص

اوصداقت سره عملي کوو مونږ پدي توافق کړي چي ددولت په اجرآتو دنظارت اومراقبت لپاره يوه عالي شورا جوړه شوي چي په هغې کي رهبران اونور مُهِمي شخصيتونه چي رهبران ياپوکميسيون ورباندي توافق کوي جوړيږي.
دايه داختلافاتو دحل ترټولو باصلاحيته مرجع وي . هر راز اختلافات به دژمنو په هکله د تفسير اودتعبير په هکله اختلاف دايه همدغه ددولت عالي شورا ته راجع کيږي اودهغي فيصله به ټول افراد په اخلاص سره متي.
،مونږ تعهد کړي چي يويل ته له دينه وروسته دورورئ لاس ورکوو ، ترخي تجربي به هيره وو ددوستي اوورولي نوي فصل به پرانيزو مونږ تعهد کړي چي په افغانستان کي به داسي فضا راپيدا کوو چي د فرد فرد مال ، سراو عزت خوندي وي. څوك دټوپك اوراکټ په زوردخلکو په آبرو عزت تيري ونشي کولاي له دينه بعد به څوك دټوپ اوټانګ په زريعه په افغانانو حکومت ونشي کولاي.
همدا رازمونږ تعهدکړي چي په ټول ملك کي به امنيت تامينوو ،جګړي به دتل لپاره پاي ته رسوو اوداچي په افغانستان کي به يوه واقعي اسلامي ټولنه جوړه وو. چي قران حاکم وي دالله کليمه لوړه وي.
ورونو ! تاسو پدي تعهداتو اوژمنو شاهد اوګواه نيسو خداي (ج) دټولو نه برشاهد اوګواه دي له الله نه مرسته غواړو چي ددغو ژمنو اودتعهد اتو دتطبيق په جهت کي مونږ ته توفيق راکړي. له قوم نه غواړو چي دجلال اباد د تاريخي ميثاق ترشاودريږي ددښمن توطيي شنډي کړي دادښمن دي چي مجاهد

ينو ترمنيځ جګړي غواړي. دښمن په کمين کي دي مونږ ته ګير دي چي مجاهدين په خپلو منځونوکي وجنګوي ددي جنګونو ترشاددښمن دخبيثو جواسيسواواومروتاولي لاسونه لګيا دي.
هغو ي مجاهد ين په خپلو منځونوکي جنګوي راځي ددښمن توطيي شنډي کړو ددښمن مقابله په متحد صف سره وکړو. يويل ته لاس ورکړو دنيا ته داثابته کړو چي نورافغانان ورونه دي . ددي کليمي

مونږتعهدکړي چي دمکي مکرمي دتاريخي ميثاق په هغه معاهده چي په حرم اواسلام اباد کي ورباندي امضا شوي بندبند،په اخلاص اوصداقت سره عملي کوو

لاندي به دالله دکليمي لاندي به دورونو په شان ژوند کوو.
ټول افغانان که پښتانه دي که تاجك ،که ازبك که هزاره که شعيه که سني ،که دشمال که دجنوب که دمشرقي که دغرب داټول ديوي کليمي اوعقيدي ورونه دي . هغوي به په واحد افغانستان کي دورونو په شان داسلام ترکليمي لاندي اوداسلامي حکومت تر سيوري لاندي ژوند کوي زه ستاسو په وړاندي تعهد کوم چي ددي ميثاق دحرف ،حرف اوبند، بند به په پوره ايمانداري اوصداقت اخلاص سره التزام کوم زه دنورو رهبرانو له ناحي نه مطمئن يم .
چي هغوي غواړي ددغسي معاهدي د تنفيذ له لاري دافغانستان کشاله دتل لپاره حل شي.
ورونو ! د ننګرهار دمجاهدينو ترمنځ بووالي اووحدت دټولو مجاهدينودوحدت لپاره ذريعه شوه . دوي متحدوو الله پاك داشرايط

برابرکړل چي دټولو مجاهدينو رهبران دلته راغونډ شول اوبالاخره بي په خپلو منځونوکي توافق وکړ.
زه دننګرهار مجاهدينو ته وايم ستاسو اتفاق مونږ متفق کړو. ستاسو اتفاق دټول افغانستان اودټولو مجاهدينو داتفاق باعث شو خپل وحدت ټينګ وساتي زه مطمين يم چي انشاءالله دننګرهار دولايت دمجاهدينو قوماندانانو بصيرت ، ايمان ،داسلام په نسبت اخلاص دابه ددي ضامن وي چي دوي هم خپل

وحدت وساتي اوهم دهغه توافق ترشاه په ګلکه اواخلاص سره ودريږي چي ننګرهار کي ټولو جهادي تنظيمونو ترسره کړي اويه يوه تاريخي معاهده بي امضا کړي.
زه دننګرهار دټولواوسيدونکو مجاهدينو علماي کرامو ، جهادي رهبرانو ، جهادي شورا،قوماندانانو اودننګرهارولايت دوالي نه منته کوم چي زمونږ ترمنځ توافق ته دررسيدو لپاره بي داسي مناسب اومساعد شرائط برابر کړل . اوبالاخره بي دافغانستان دکشالي دحل په ارتباط دغسي تاريخي رول اداکړ.
زه دخپلو خبرو په پاي کي له تاسو نه هم پدي خبره تعهد اخلم چي ددي تعهد نامي ميثاق اودجلال اباد دتاريخي معاهدي ترشا به په ټول توان طاقت ودريږي څوك چي له ماسره تعهد کوي لاس نه دي اوچت کړي اقول قولي هذا استغفروالله لي و لکم وسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته .

د سرمقالې پاتې برخه

رنګيدو وروسته دريم دي.
دجلال اباد په تاريخي ښارکښي ددغه ترون په باب خبر ي اتري په داسي وخت کښي پيل شوي چي ځيني ناعاقبت انديشه اوخپلسريو مجاهدينو د دکمونستي رژيم دبقاياو په مرسته دخپلو ځوارلس کلنو همسنګرو مجاهدينوپرخلاف په پروان ،کاپيسا اوکابل کښي جګړه پيل کړي وه ، له يوي خواپه جلال اباد کښي خبرو اترو دوام پيداکړ اوبلي خواته جګړي شدت .
اوهغه دي ټول نړيوال اودرانه هيوادوال اوري اوګوري چي دترون له لاسليك کيدولو سره سره اوس هم په کابل اوشاوخواسيمو کښي جګړه دوام لري.
اوژمورپه زرونو بي دفاع خلك په دغه بي امانه جګړه کښي تراوسه دبارونو داورخوراك شوي اودغه لري لا هم جريان لري.
په کاروخوداوه چي دخبرو اترو دشروع کيدلو پهپيل کښي بايد په پروان ، کاپيسا کښي دمجاهدينو پرخلاف جګړه لرترلږه دخبرو اترو ترنتيجي پوري بنده شوي واي ، که څه هم په لومړي سرکښي ددغه کارله پاره يوهئيت ديوتن جهادي مشرترقيادت لاندي کابل ته ولار،خو ددي پرځاي چي هغه ښاغلي مشر داوريند په باب خپل فعاليت وکړي اومثبته نتيجه ترلاسه کړي ، پخپله همالته د يوه لوري په ملاتړ دجګړي په دګر کښي پاته شو اوورسره تللي هئيت نامراده جلال اباد ته راستون شو او بالاخره بي پخپله په خبرواتروکښي له ګډون نه معذرت وغوښت.
له دي هرڅه سره سره دجلال اباد خبري اتري دشل ورځي پرله پسي مذاکراتو اومشورو وروسته نتيجي ته ورسيدي اودجلال اباد تاريخي معاهده منځته راغله ، مونږ د ننګرهار ولايت دجهادي شوري اتحاد،
وروروليږ ،هم اهنګي اوابتکاراتو ته په درنه سترګه ګورو او وياړيږي کوو چي الحمدلله ! زمونږدجهادي قيادت ترڅنګ دمؤمن ملت په دوودداسي دردمن او بادرايت شاه زلمي قوماندانان هم شته چي نه يوازي داچي له جهادي قيادتونو څخه دافغانستان دستونزي په اره دروغي جوړي غوښتنه کوي ، بلکي د خبرو اترو له پاره دهغوي امنيت اوميلمه پالنه هم پرخپله غاړه اخلي اوهغوي دي ته هڅوي چي حتماً بايد داسي بونتيجي ته سره ځانونه ورسوي چي دمومن اومجاهد ملت په ګټه اوخيروي.
خوکومه تشه(خاليګاه چي دمعاهدي پر وخت اوله معاهدي وروسته اوس هم ورته زياته ارتيا ليدل کيږ ي ،هغه داده چي دافغاني دودله مخي بايد دننګرهار جهادي شوري لږ-ترلږه دافغانستان له ټولو ولاياتو اويا له زياترو ولاياتو چي تردي ځايه يي ځانونه رارسولاي شول دولاياتو د جهادي شوراګانو په ټاکنه دوه دوه يادري اويا څلور څلور تنه جهادي قوماندانان راغوښتي واي اويايي راغواري چي که هر چا له دغه ترون نه سرغړاوي وکړ ، مور به يي دمخالف لوري ترڅنګ دريږو اوترهغي پوري به يي له ملاتړ نه لاس نه اخلو ترڅومومخالفت کوونکي لوري د جلال اباد دمعاهدي بندبند عملي کولو ته ارکري نه وي.
دي کارسره به له يوي خوازمونږمومن ملت دحق اوناحق دښه معلوميدلو له تيارو نه راوتي وي اوهم به جهادي قوماندانانو خپل ورسپارل شوي تاريخي کردار ترسره کړي وي . اوکه داسي ونه شي نو په کابل کښي دروانو جګړو دوام به له دي پرته بله معني ونه لري چي دجلال اباد معاهده جهادي قيادتونو له جلال آبا دنه دوتلو په خاطر کړي وه اوبس.

دجلال آباد په ښار کي دجهادي مشرانو ...

جلال آباد ۳۰ ثور:
محترم ورور حاجي صاحب دين محمد دمولوي صاحب خالص داسلامي حزب مرستيال او دجهادي شوري وياند دجلال اباد په قصرکي دجهادي تنظيمونو مشرانو ددريو اونيو په پرله پسي غونډوکي دشوروپريکړو اوتوافقاتو نتائج اودنوي کابينې غړي داسي اعلان کړل:

۱- دملي اردو جوړيدل .
۲- دانتخاباتو دکارپيل اودوزيرانو ټاکل .
۳- دعالي شورا جوړيدل.
٤- دانتخاباتو دکميسيون مختصره لايحه
٥- داوريندکميسيون.
٦- ددفاع کميسيون .
۷- دداخله چاروکميسيون .
۸- دخارجه چاروکميسيون.
۹- دمالي اموروکميسيون.
۱۰- داطلاعاتو کلتورلپاره کميسيون.
۱۱- دقوماندانانو دراغونډولولپاره کميسيون.
۱۲- دخوراکي موادو دتوزيع کميسيون.

همداراز هغه فيصلي چي ټولو رهبرانو پري توافق کړي .
۱- په افغانستان کي داسلامي نظام ټينګول.
۲- دجهادي رهبرانو ،قوماندانانو اوبوهو مخلصو کسانو په شمول دعالي شورا جوړيدل.
۳- په ټول افغانستان کي دجنګ بندول اودلارو خلاصول .
٤- دبهرنيوچارو اواطلاعاتو کلتورپه وزارتونوکي دکميسيونونو فعالول.
٥- په ټول افغانستان کي ديوملي اسلامي اردو جوړول .
٦- دملي امنيت دوزارت په تشکيل اووظايفو باندي تجديد نظر کړل.

۷- داسلام آباد دموافقي اودهغو موادو تطبيق کوم چي په اوسني ترون کي ندي شامل.
۸- جهادي مشرانو داکثريت په خوښه اودجمهور رئيس په منظوري دکابينې جوړول.

دمهاجرينو دعودت وزير فاروق اعظم

وروړحاجي دين محمد داسلامي حکومت دټينګښت اودهغه دمشخصاتو په منظور څونوري فيصلي پدي ډول اعلان کړي.
۱- په ټولو هغو قراردادونو به تجديدنظر کيږي چي دملحد رژيم په دوران کي دخارجي هيوادوسره امضا شوي دي.
۲- ټولي هغه اصول نامي اولوايح چي دملحد رژيم په دوران کي تصويب شوي دي لغوه اوکارونه به دهغو لوايحو اواصول نامو په اساس سرته رسيږي کوم چي دټور دبدنامي کودتا څخه دمخه دشريعت مطابق نافذ وي.
۳- په بهرکي دافغانستان نماينده ګان (سفيران) اونوردبيلوماتيك خلك به متدين ،دشريعت داصولو پابند اوداسلامي دولت واقعي ممثلين وي.
٤- دټولو هغوکسانو څخه دکار وتو اوامتيازاتو بيرته اخستل چاچي دمجاهدينو په مقابل کي دجنګ په برداشت کي امتياز دکمونيست رژيم څخه ترلاسه کړي

وي.
٥- دکمونيست رژيم دوخت مقررشوي سفيران برطرف اويه خارجي نمايندګيو کي دوطن دګوندغړي به دټولو ديپلوماتيکو

دپلان وزيرمحمدعلي "جاويد"

وظايفو اوامتيازاتو څخه محرومېږي.
٦- دښځو شرعي حجاب به مراعات کيږي.
۷- دااقتصاديوه مستقله اداره به په دولت کي جوړيږي . اود عالي شورا مشوره به ددي اداري لپاره اخستل کيږي.
ترڅو پوري هغه کارونه باهغه څه چي مونږ وايو چي دلته به پواسلامي نظام قائميږي دوي به دهغوي پوښتنه کوي اوګوري به چي ايا څه چي فيصلي پري شوي دي هغه قابل دتطبيق دي اوکه نه .
وروسته محترم وروړ حاجي . دين محمد دهغو وزيراتومونه چي په شوري کي فيصلي پري شوي پدي ډول اعلان کړل.
۱- دښوونې اوروزني وزيرمحترم مولوي جليل الله (مولوي زاده) .
۲- دحج اواوقافو وزيرمحترم مولوي ارسلا (رحماني)
۳-دخارجه چارووزير محترم هدايت الله (امين ارسلا)
٤- دسرحداتو وزير محترم سيدسليمان (ګيلاني)

٥- دپلان وزير محترم محمد علي (جاويد)
٦- دکاراواجتماعي)بورووزيرمحترم سيدحسين (انوري)
۷- دعالي تحصلاتووزيرمحترم

دښارسازي اواسکان وزير انجنير احمدشاه "احمدزي"

استادسيدعمر.
۸- دښارسازي اواسکان وزيرمحترم انجنيراحمدشاه (احمدزي)
۹- دمالي وزيرمحترم استاد عبدالکريم (خليلي)
۱۰- دتجارت محترم وزيرحيات الله (ابلاغي)
۱۱- دزراعت وزير محترم سيدنورالله (عماد)
۱۲- دآب برق وزير محترم انجنير محمدايوب .
۱۳- داطلاعاتواوکلتوروزيرفعلاً محترم حاجي دين محمد .
١٤- دعدليي وزير محترم جلال الدين (حقاني)
١٥- دعامي روغتيا وزير محترم دوکتورسيدمحمدامين (فاطمي)
١٦- دهوانو ردي وزير محترم دوکتورحشمت الله "مجددي .
۱۷- دمخابراتو وزير محترم قاضي محمدامين وقاد .
۱۸- دساختماني امورو وزيرمحترم انجنير فيض محمد.
۱۹- دمهاجرينو دعودت وزير محترم فاروق اعظم.

څه نور وزارتونه چي تراوسه فيصله نده پري شوي کوم وخت چي فيصله پري وشي ستاسو قدرمنولوستونکو دپوره معلوماتو لپاره به په راتلونکو وختونو کي خپاره کړو.
دغونډي به پاي کي په داسي حال کي چي برخوالو دمبارکي دنعرو سره زمزمه اودتکبير کفر لرزونکي به نارو بدرګه کولي ننګرهار دجمهوري قصر مخه بي لا روښانه کړي وه او دننګرهار دجهادي شورا درئيس ورور حاجي عبدالقدير ځوا ټولو جهادي مشرانو ته دعزت لپاره يوه يوه لنګي اويوه يوه خولي چي دحضرت محمد(ص) له سنتو طريقو څخه دي وريه سرشوي اوغونډه دحرکت انقلاب اسلامي دمشر محترم مولوي صاحب محمد نبي "محمدي "په دعاسره پاي ته ورسيده دغونډي نه وروسته دافغانستان دحزب اسلامي امير او داسلامي دولت صدراعظم وروړحکمتيار يوپريس کنفرانس جوړکړ اودګن شمير خبريالانو پوښتنو ته يي په زړه پوري ځوابونه ورکړل.
خبريال محمد عارف "رحيمي

په جلال آبادکي د ...

دقيقو دقران عظيم الشان دځو مبارکو اياتو نو په تلاوت پرانستل شوه دغونډي په پيل کي دننګرهار دجهادي شورا رئيس اودنوموړي ولايت والي حاجي عبدالقدير ارزښتناکه وينا وکړه اودجهادي مشرانو څخه بي منته وکړه چي دوي داسلامي اصولو سره سم ديوه اسلامي حکومت په رامنځ ته کولو کي په توافق ورسيدل .
هغه وويل دننګرهار خلك تولو جهادي مشرانوته اطاعت لري اومونږ ترهغه وخته پوري ددوي اطاعت کوو ترڅو چي دوي په افغانستان کي ديوه سوچه اسلامي حکومت واګي په لاس کي لري.
حاجي عبدالقدير وويل زمونږ غوښتنه يوازي ديوه اسلامي حکومت جوړول دي مونږ ټول ديوه اسلامي حکومت عسکر يو اودجهادي مشرانو عزت غواړو.
همداراز ده وويل مونږ ټولو جهادي مشرانو ته داډوروکوو چي دننګرهار خلك به ستاسو سره دهرډول تعصباتو دمختيوي په لاره کي همکاري وکري ده زياته کړچي دادټول ننګرهار دخلکو غږدي چي مونږيه خپل هيوادکي هيڅ ډول تبعيض اووينه توليدنه نورنشورزغملاي مونږ دټولو جهادي رهبرانو څخه دجلال آباد په پريکړو عمل غواړو.
له هغه وروسته دافغانستان جمهوررئيس محترم استاد رباني ارزښتناکه اوعالمانه وينا وکړه . اودخپلو خبرو په يوه برخه کي بي داسي وويل زمونږ جهادي مشران

داخوورځي دوروري اواخلاص په فضا کي په داسي شکل راغونډ شوو چي هيچا هم داګمان نه کاوه چي دوي کومي مثبتي نتيجي اوفيصلي ته ورسيږي ځکه چي داسلام دښمنه راديو ګانو دافغانستان دستونزي دحل کيدو په باب په ډول ډول تبصرولاس پوري کړي وو خو لله الحمد چي دهغوي دتبصرو برعکس زمونږغونډي په ډيره خوشحالي اودوروري په فضا کي پاي ته ورسيدي اومثبت نتايج موترلاسه کړل.
استاد رباني وويل مونږ به وروسته له دي هيچا ته اجازه ورنکړو چي زمونږ ملي وحدت له مينځه يوسي اوکه هرڅوك غواړي چي افغانستان په ځو برخو وويشي نومونږ ټول جهادي رهبران اوجهادي قوتونه به د هغوي مخه په ميړانه اوقرباني سره نيسو.
له محترم استاد رباني وروسته دحزب اسلامي مجاهدامير او دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم وروړحکمتيار ارزښتناکه اوعالمانه وينا وکړه چي ښشپړ متن به بي په همدي ګڼه کي ولولي .
له وروړ حکمتيار وروسته دافغانستان داسلامي حزب مرستيال اودجهادي رهبرانو دغونډي وياند محترم وروړ حاجي دين محمد دجهادي مشرانو دغونډو په باب پوره اوپه زړه پوري معلومات ورکړل اوهغه تعهدات - بي چي پدي غونډوکي پري فيصلي شوي اعلان کړي.

پاکستان خبر ...

دولت چين نيز اين ګزارش را تکذيب کرده است، مسئله فروش سلاح به پاکستان وکشور هاي شرق ميانه موجب شده است که بسياري ازاعضاي کنګرۀ امريکا خواستار مشروط ساختن روابط معمول تجارتي بين چين وامريکا شوند.

> **يادداشت**
> نسبت نبردن تصاوير عده اي ازاعضاي کابينه ، عکس ها ي شان ازنشر بازماند. ان شاالله درشماره هاي آينده منتشرخواهد شد

په اسرائيلوکي ...

وايي چي دوي په زندان کي ډيرول شوي په سخته تردوخه کي اچول شوي ، اودي ته مجبور کړي شوي چي ډير وخت په پښوودريږي

اويادزنداني توپ په وخت کي دامنيتي قواوو له خواتهديد شوي هم دي. ترنيمايي زيات فلسطينيان وايي چي کله په داسي شور اوځوك جوړ شوچي غوږونه بي کڼول ،کله به خفه کړي هو .

خمرهاي سرخ امريکا را متهم به توطئه عليه ان سازمان نمود.

پنوم پن ۳۱ ثور.
گروه چريکي خمرهاي سرخ حکومت امريکا را متهم کرده که عليه آنها توطيه مي چيند اين الزام صرف دوروز قبل ازانتخابات عمومي آنکشور واردمي شود. يك نطاق خمرهاي سرخ الزامات قبلي را تکرارکرد که واشنگتن ومتحدين آن به حکومت پنوم پن سلاح تهيه مي کنند تا عليه خمرهاي سرخ بجنگند ، اما اين نطاق کدام شواهدي را درزمينه ارائه نکرد.

رطانيه بوازيني هيواددي چي دماستريخ تړون بي نه دي منظورکړي

برطانيه : دغويي ۳۱ نيته.
دبرطانيي صدراعظم جان ميجر وايي چي په دي باورلري چي دبرطانيي پارلمان به داروپايي ټولنې داقتصادي اوسياسي اتحاد په باره کي دماستريخ تړون منظورکړي .
دبرطانيي ولسي جرگه به نن ددغه تړون دمنظوروولو په باره کي رايه گيري وکړي.
رپوتونه وايي احتمال لري چي دبرطانيي ولسي جرگه دغه تړون منظور کړي مگر دغه تړون دمشرانو په جرگه کي دسخت مخالفت سره به مخ شي.
وروسته له هغه چي ددنمارك خلکو دسه شنبي په ورځ په يوه ريفرندم کي دغه تړون منظورکړي برطانيي داروپايي ټولني بوازيني هيواددي چي دغه تړون بي نه دي منظورکړي.

جت هاي امريکا درمنطقه ممنوعه پرواز جنوب عراق باآتش ضدهوايي عراق روبروشد.

۳۱ ثور.
جت هاي نيروي دريايي امريکا که درمنطقهٔ ممنوعه در جنوب عراق گشت زني ميکنند ، دراين هفته درسه مورد جداگانه باآتش ضد هوايي عراق روبروشد.
يك نطاق وزارت دفاع امريکا گفت ، گلوله هاي ضدهوايي به جت هاي نيروي دريايي شليك شدولي به آنها اصابت نکرد. وي افزود هيچ يك ازطيارات به اين آتش بار بها پاسخ نداد.

دالسلوادورپوليسو دري تنه مظاهره کوونکي ووژل .

السلوادور؛ دغويي ۳۱ نيته .
دالسلوادوردضربي پوليسو دکورني جگړي دمعيوبينو پراعتصاب کوونکو باندي ډزي وکړي اودهغوي نه بي دري کسان ووژل .
دسلوادور دجگړي پنځه سوه معيوبين چي ځيني بي په ارابه داره چوکيو کي وو اوسان سلوادور ته په مظاهره راوتلي وو او دايي غوښتل چي هغه طبي اواقتصادي مرستي چي وعده ورکړشويوه بايد ورسره وشي.
عيني شاهدان وايي کله چي مظاهره کونکو کوشش وکړچي ديوه ازغي لرونکي سيم تخته واوړي نو په دغه وخت کي پوليسو پرهغوي اوښکي بهونکي گاز استعمال کړ اوډزي بي هم وکړي. چي ددغوډزو په ترځ کي دري تنه ووژل شول.

رئيس جمهور روسيه غرض تکميل قانون اسا سي انکشور مجلس موسسان رادايرمينمايد .

مسکو ۳۱ ثور.
يلتسين رئيس جمهور روسيه فرماني را صادر کرده تامجلس مؤسسان را داير نموده وکار روي مسوده قانون اساسي را خاتمه دهد.

فرمان يلتسين؛خواهان تدويرمجلس مؤسسان بروز پانزده جوزا مي شود.اين مجلس شامل نمايندگان جمهوريت ها ومناطق روسيه وکلا واعضاي انتصابي توسط رئيس جمهور ،اعضاي احزاب و جنبش هاي سياسي کشور وماموررين حکومات خو دمختار محلي مي شوذ.
يلتسين ميگويد : حاضر است بارقباي خو دمصالحه کرده وروي يك مسوده ديگر که توسط يك کميسون پارلماني پيشنهاد مي شود غورکند.

دملگروملتودسرحد کميسيون دعراق اوسعودي ترمينځ دسرحد دټاکلو بشپړ کړي دي .

بغداد . دغويي ۳۱ نيته.
دملگروملتودسرحد کميسون دعراق اوسعودي ترمينځ دسرحد دټاکلو کار بشپړ کړي دي. دغه کميسون خپل کار پرون ختم کړ او هغه جنجالي سرحدي په نښه کړ چي په ۱۹٦۲ کال دواړو هيوادونو موافقه ورباندي کړيوه .
دملگروملتوعمومي منشي پطروس ،پطروس غالي وويل چي دکميسيون دکارنتيجه نهايي ده اودبغداد حکومت بايد ددغي فيصلي مراعات اواحترام وکړي.

فلسطينيان رانده شده به جنوب لبنان خواستار اجراي قطعنامه ۷۹۹ شدند.

لبنان ۳۱ ثور.
فلسطينيان رانده شده به جنوب لبنان ازدولت لبنان خواستند که درخواست تشکيل جلسه شوراي امنيت براي اجراي قطعنامه ۷۹۹ دررسيدگي به موضوع بازگشت فلسطينيان رامطرح سازد.
نطاق اخراج شدگان فلسطيني درجنوب لبنان امروزبااعلام اين مطلب تاکيد کرد؛مذاکره با رژيم اسرائيل بي فايده است وتنها راه مبارزه بااين رژيم آزادسازي بيت المقدس وسرزمين هاي اشغالي

شهادت

امريکايي مامورينو په پټه دجنرال دوستم سره خبري کړيدي

تاشکند... عراق ۳۱ مه
دامريکا مامورينو دجنرال دوستم سره کتلي دي خوددوي ترمينځ خبر ي تراوسه افشا شوي نه دي . ويل کيږي داکتنه تيره اوني په تاشکن کي شويده خو په شاشکن کي دامريکي دسفارت مامورينو داراپوروونه نه تاييدکړي اوته بي ردکړي دي. تاشکن ته په رارسيدلي رپوټونوکي ويل شوي چي داليدنه کتنه په داسي وخت کي شوي چي دازبکستان واکمنو اودجنرال دوستم ترمينځ مناسبات مخ په خرابيدو دي.
پهخبرکي ويل شوي،امريکا منځني آسيا ته داسلامي افراطيونو دزيات شمير ورتگ په باب انديښنه لري رپوټ کي داهم ويل شوي چي په دي وروستيو کي دازبکستان دحکومت اوددوستم ترمينځ مناسبات خراب شوي او ويل کيږي دامناسبات له دي کبله خراب شويدي چي ازبکستان هغو افغانانوته چي په غواړي مسکوته لاړشي دترانزيت ويزي دورکولو نه ډډه کوي.
په يو خصوصي رپوټ کي هم ويل شوي چي دجنرال دوستم نيژدي ملگري هم داخبره کوي چي ددوي اودازبکستان دحکومت ترمينځ اړيکي خرابي شويدي.
اودوستم داغوښتل چي په مستقله توگه دافغانستان داسلامي دولت نه پرته دازبکستان سره اړيکي ولري.

اردوي اشغالگرهند يك قوماندان سازمان چريکي الجهادکشمير رادستگيرنمود

سرينگر ۳۱ ثور.
اردوي هند يك رهبر بلند پايه استقلال طلب کشمير اشغالي را دستگير کرده است.شيخ عبدالعزيز قوماندان گروه چريکي الجهاد کشمير امروز با يازده تن ازهواداراتش درقريه ويل سورا درجنوب سرينگر مرکز کشمير اشغالي دستگيرشد.
گزارشهاي خبري حاکيست که درزمان هجوم اردوي اشغالگر هند دران قريه که پايگاه استقلال طلبان محسوب مي شود مختصرا تيراندازي متقابل صورت گرفت ولي ازتلفات گزارش داد ، نشده است .
سازمان الجهاد که يکي از چندين گروه تندرو کشمير است که براي ختم حکمروايي هند به کشمير مبارزه ميکنند يك گروه نيرومند چريکي طرفدار پاکستان محسوب ميشود.
درعين حال مسلمانان کشمير امروز يك اعتصاب عمومي را براه انداختند.
تاازسومين سالگرد قتل يك روحاني بلند پايه مسلمان تجليل نمايند که توسط افراد مسلح ناشناس به شهادت رسيده بود.

يك محکمهٔ غيابي درالجزايريك نطاق جبههٔ نجات اسلامى راکه درتبعيد بسرمى برد به ۲۰ سال حبس محکوم نمود

الجزاير ۳۱ ثور
يك محکمه نظامي درالجزاير يك نطاق جنبش اسلامي آنکشور را که در تبعيد به سرمي برد به بيست سال زندان محکوم کرده است . محکمه خاص درشهر کانستا نتين وي را بخاطر فعاليت هايش درجبهه نجات اسلامي الجزاير واتهام تخريب کاري محکوم نمود . کبير نطاق جبهه نجات اسلامي در اروپاست وي سال گذشته از الجزاير فرار نمود . محکمه بيست وچهارتن ازمتهمين ديگر را به الزام تخريب کاريء به مخاطره افگندن دولت وفروش سلاح محکوم نمود . ده متهم ديگر برائت حاصل کردند.
اما حقيقت اين است که سرکوبي مسلمانان بخشي از پروگرام هاي نظام جديد امريکا ست که ازطريق سردمداران دست نشاندهٔ حکومات اسلامي تطبيق مي شود.

چين به اسرائيل از عدم فروش سلاح به کشورهاي شرق ميانه اطمينان داد

پيکنگ ۳۱ ثور.
چين به اسرائيل گفته است درفروش سلاح به شرق ميانه فوق العاده خويشتن داري بخرچ داده و درمساعي صلح نقش فعال خواهد گرفت ،شيمونپرس وزير خارجه اسرائيل بعداز مذاکره درپيکنگ جزئيات تعهد چين را افشا نمود، پيرس ميگويد :. وزير خارجهٔ چين بوي اظهار داشت چين احتياط بخرج خواهد دادتا سلاحي را نفروشد که امنيت اسرائيل را به مخاطره مي افگند وتعهد کردکه به سوريه راکت نخواهد فروخت .
پيرس براي يك سفر شش روزه عازم چين شده همکاري چين رادرحل منازعه عربها واسرائيل بدست آورد.

دامريکاجمهوررئيس دقرغزستان دجمهور رئيس سره مفصلي خبري وکړي

واشنگتن : دغويي ۳۱ مه نيته .
دامريکا جمهور رئيس کلنټن اودهغه مرستيال الگو ردقرغزستان دجمهور رئيس عسکر عطااوف سره پر بيلو بيلو موضوعاتو مفصلي خبري وکړي.
آقايوف دمتحده ايالاتو دسياسي اواقتصادي مشرانو سره دخبرو له پاره واشنگټن ته تللي دي.
دامريکا جمهور رئيس کلنټن دخبرو نه وروسته په يوه بيانيه کي دواشنگټن اوبشکيك ترمينځ ددو اړخيزو رابطي دپراختيا هرکلي وکړ. اوهغه قرغزستان لمړني هيوادو باله چي دخپلواکو دولتونو د ټولني لپاره بنه نمونه اومثال کيدي شي.
خبرياتوي چي اقايوف به نن دبين المللي وجهي صندوق درئيس اونورو لوړرتبه مقاماتو سره وگوري.

سعودي ته دايران دبهرنيوچارودوزيرسفرد دواړو هيوادوجمهوررئيسانو دغونډي زمينه برابروي

رياض دغويي ۳۱ نيته .
درياض ځخه په رارسيدليو رپوټونوکي ويل شويد ي چي هغه هيوادتهدبهرنيوچارودوزير سفر شايد دسعودي عربستان دپادشاه ملك فهد او دايران دجمهوررئيس علي اکبر هاشمي رفسنجاني دعالي جرگي لپاره زمينه برابره کړي وي.
ځيني رپوټونه وايي چي ملك فهد ويلي چي په نيږدي راتلونکي کي دايران دليدو اميد لري خودرياض ډيپلوماتانو داسيوشيتيت پرس خبري آژانس ته وويل چي رفسنجاني غواړي چي سعود ي عربستان ته سفر وکړي.
ددغو دواړو مشرانو ترمينځ دعالي جرگي دامکان خبره هغه وخت راپورته شوه چي دايران دبهرنيو چارو وزير علي اکبر ولايتي په سعودي عربستان کي خپل دري ورځني سفر پاي ته ورساوه ولايتي اوس عمان ته تللي چي دا دخليج عربي هيوادونو ته دهغه دسفر چي روابطو دښه کيدو اولابنه کيدو په مقصدبي کوي دوهم تم ځاي دي.
ولايتي به دعمان دمشرانو سره هم دفارس خليج دامنيت په باره کي وغږيږي.

جزايري محکمي ۲۰ تنه په بيلو بيلو مودي بند محکوم کړل.

الجزيره دغوايي ۳۱ نيته .
دالجزاير يوي خاصي محکمي لس تنه ديرش ځخه دتيښتي لپاره دير عسکر سره د مرستي په تور ددري ځخه ترپنځه لسو کالو پوري په مختلفو بندونو باندي محکوم کړل.
درويتر دخبري آژانس درپوټ په اساس دغه افراد دفبروري په مياشت کي ديرش ځخه ديو تن عسکر دتيښتي دمرجباتو دچمتو کولو په تور ونيول شول.

بخاطر سالگردکشته شدن راجيوگاندي امروز درهند ماتم اعلان شد

دهلي جديد ۳۱ ثور.
هند امروز را بخاطر دومين سالگرد قتل راجيو گاندي صدراعظم سابق درسوگواري گزرانيد . دوسال قبل گاندي توسط يك حمله انتحاري يك فرد درجنوب هند کشته شد. ناراسيماراو صدراعظم ،سونيا بيوه گاندي ودوفرزندش دريك اجتماع دعا خواني درمحل قتل گاندي درشهر سيپريوم پودو درنزديکي مدراس شرکت کردند . شرايط امنيتي درمحل باشرايط دوسال قبل بسيارفرق داشت درآنوقت اطراف گاندي را هواداران احاطه کرده وبادسته هاي گل باوي مصافحه ميکردندما امروز جمعيت توسط موانع افراد پوليس خاص چندين صد متر دورترازرهبران نگهداشته شده بود ،اين روز هم چنين درسرتاسرهندبا راه پيمايي ها برگزارشد.

رئيس عمليات صليب سرخ ملل متحد نسبت کم علاقه بودن آن سازمان درموردافغانستان انتقادنمود

۳۱ ثور
يك مامورعاليرتبهٔ صليب سرخ برملل متحد انتقاد نمودکه براي متوقف ساختن جنگ درافغانستان اقدامي نميکند.
ژان ميسلمون آمر عمليات صليب سرخ بين المللي طي يك کنفرانس مطبوعاتي گفت . که سطح بدبختي درکابل غير قابل تحمل ميباشد. وي همچنين اظهار داشت که موافقت براي آتش بس درهفته جاري چندان تاثيري نخواهد داشت ويافزود :
ملل متحد براي پشتيباني ازابتکارات منطقوي صلح براي متوقف ساختن جنگها پس ازپايان حکمروايي کمونيزم کدام اقدامي نکرده است وافغانستان سخت نيازمند کمك عاجل جهان خارج است.

دونيزيويلا ستره محکمه دهغه هيواددجمهور رئيس دمحاکمه کيدو فيصله کړيده

وينزيولا دغويي ۳۱ نيته.
د وينزيويلا ستري محکمي فيصله وکړه چي دهغه ملك جمهور رئيس کارلوس اندرس پيرس د اداري فسادااورشوت خوري په تورمحاکمه کړي.
دوينزويلا دستري محکمي دپنځه لسو قاضيانو ځخه ۹ کسو بي موافقه وکړه چي دجمهور رئيس دبرطرفه کيدو لپاره پوره شواهدموجوددي. توقع ده چي سناپادمشرانو جرگه چي دمخالفينو ترکنترول لاندي ده نن دافيصله وکړي چي پيرس دستري محکمي لخوا محاکمه شي . پيرس دپنجشنبي په ورځ ويلي وو چي دي به دسنا ځخه ونه غواړ ي چي دمحکمي پريکړه ردکړي بلکه ددغه توريه مقابل کي به دفاع وکړي.
####

دپيام ازادي درادي‍و اطلاعيه .

دپيام آزادي درادبو نشرات چي۹ځينو تخنيکي ستونزو له امله دثورد ۱۸ مي نيټي ځخه متوقف شوي وو دثور په ۳۰ مه نيټه بوځل بيا پيل شول گران اوريدونکي کولاي شي زموږ نشرات په پخوانيو پريکانسيو او وختونو تعقب کړي.
به درنښت.

فرمان الهي

راه ملامت برآناني است که برمردم ظلم مي کنند و درزمين ناحق فساد مي طلبند وآنان راست عذاب درددهنده

ارشادنبوي

ابن مسعود (رض) روايت مي کند که پيامبر (ص) فرمودند:
"مؤمن بسيارطعنه زننده ولعنتگر وبدگفتارويدکردار نيست."
(رواه الترمذى)

دننگرهارتاريخي غونډی دپای ته رسيدو په خاطر دبيلابيلو ولايتونو طالب العلمانو يوه درنده غونډه وکړه

دغويي ۳۱ مه .
دروان کال دغويي دمياشتي په ۳۱ مه نيټه دافغانستان دجهادي مشرانو دپرله پسي غونډو دپاي ته رسيدو اوپه غونډو کي دهغوي په هراړخيزو پريکړو دتوافق په خاطر دافغانستان دبيلا بيلو ولايتونو طالب العلمانو يوه درنده غونډه جوړه کړه پدي غونډه کي چي دتخار ، بدخشان ، کندز پروان ، کابل اوننگرهار ولايت طالب العلمانو برخه اخستي وه دقران عظيم الشان دځومبارکو اياتونو په تلاوت پيل شوه.
دغونډي په پيل کي دټولو زدکونکو اوطالب العلمانو په نمايندگي دلاهوردحوزي دسيد مودودي (رح) دانستيتوت ناظم يوه عالمانه اوارزښتناکه وينا وکړه اوپرخوال بي خپلو مسوليتونو ته متوجه کړل وروسته ټولو محصلينو اوطلبه وو دافغانستان دجهادي مشرانو ځخه خپلي غوښتني پدي ډول اعلان کړي.
۱- بايد ټول جهادي رهبران وروسته له دي خپل اختلافونه حل کړي.
۲- که دوي خپل اختلافات حل نکړي نوخداي (ج) ناخواسته داملت به ددوي دښمنان وگرځي
۳- ټول جهادي رهبران اوپه خاصه توگه جمهور رئيس بايد ديوه مسعود په خاطر ټول افغانستان په اور کي ونه سوځوي.
٤- دافغانستان مؤمن ملت نوردکابل داداري ظلمونه نشي برداشت کولاي اومقابله به بي حتمي کوي.
٥- موږ دټولو رهبرانو نه غوښتنه کوو چي صالح وزيران وټاکي ظالم خلك زموږ ملت نورنشي برداشت کولاي.

دمصرپوځي محکمي د۱٤ کسانو داعدام غوښتنه کړيده

قاهره دغويي ۳۱ نيته .
په قاهره کي د مصرډحکومت يوي پوځي محکمي پرون د ۱٤ تنو نيول شوو مصري مسلمانانو لپاره داعدام دجزا غوښتنه وکړه.
دغه دله دمصر دپوځي خارنوالي لخواتورنه شويده چي دمصر دررژيم داطلاعاتو دوزير صفت الشريف پرخلاف په ناځاپي حمله کي گدون درلود.
صفت الشريف دتيراپريل په شلمه نيټه ترېريدلاندي ونيول شو. خبر زياتوي چي دمصر پوځي خارنوالي همدا راز ۱٤ کسان چي دهغوي خلورکسان په غيابي توگه محاکمه کيږي دتير مارچ دمياشتي په ۱٦ نيټه دلرغون پيژندني دموزيم په مقابل کي دتوريستانو ديوبس موټر په چاودني تورن کړي دي.

شهادت
بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : الجنيرحکمتيار
ناشر : رياست ارشادوفرهنگ
تحت نظرهيئت تحرير
پست بکس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي:۸٥۲٦٤
دافغانستان بانك
تلفون : ۲۳۷۰